هموطن و نویسندهٔ گرانقدر جناب ایاز جان نوری!
ورود شما را به پورتال "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان" خیر مقدم میگوئیم.
مقالهٔ با ارزش شما رسید که با کمال میل به نشرش میپردازیم. متیقن استیم که همکاریهای خود را با پورتال ادامه داده و خوانندگان را از مطالب سودمند و ارزندهٔ تان مستفیض خواهید گردانید.
موفق باشید و همیشه در خدمت مردم و وطن
با تقدیم محبت
پورتال "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان"

.


لیکوال: محمد ایاز نوری
هالند، ۳/۱۱/۲۰۰۸


# یو تاریخی او ځانگړی دیدار

## " پاچا زوی ولیعهد ډاکتر رحمت الله خان"

په ژوند کی بعضی واقعی په رښتیا چی په انسان ډیر تاثیر کوي او هره صحنه د هغي واقعي یا دیدار د سرِي په ذهن کی بدون د وقفی ثبتیږی چی زما په انګیرنه یو علت یی د هغه کس سخته او عمیقه علاقه او پاملرنه هغو تیرو شوو شیبو کی د مقابل طرف برم او عظمت ته وي. هسي هم د افغانستان خلکو ته نن او پرون د خپل ویاړمن تاریخ په بهیر کی د هغوی د ملی اتلانو په کتار کی د خدای بخښلی اعلیحضرت غازی امان الله خان ځانګړی ملي شخصیت، کارنامی او افغانستان ته د خدمت لپاره د عملی قربانی د ورکولو مقام ډیر اوچت او د درنښت وړ دئ. زما پنځه کلن معرفت د غازی د کور د غړو سره ما ته یو لوی روحی او معنوي ارزښت را په برخه کړئ او هیله لرم د نورو مخلصو افغان لیکوالانو او تحقیق کوونکو په کتار کی وکړای شم دغه د افغان زوریدلی ملت ښخه پټه ساتل شوي اتله او مظلومه کورنی نوره هم معرفی کړو.
د ۲۰۰۵ م کال په پیل کی زما اړیکی د غازی اعلیحضرت امان الله خان د دوهم مشر زوی جناب ولیهد ډاکتر رحمت الله خان سره پیل شولي. د هم هغه کال د جون په لومړی نیټه چی د مرحوم غازي اعلیحضرت امان الله خان د زوکړې سره برابره ده ما یو د مبارکی کارت د هغه ملی اتل په یاد جناب رحمت الله خان ته وروستاوه. هغه ما ته فون وکړاو وی ویل : زما عزیزه! ستا له خوا زما د پلار غازی اعلیحضرت د زوکړې په مناسبت یو کارټ راورسید. که څه هم احسان الله خان ستا په باب ما ته تل ویلی او دا یو کاغذ دی خو زما لپاره ډیر لوی ارزش لري. نن سبا حالات بدل دي، امان الله خان چا څه پکار دی؟! او دا کار چی تا کړی دا خورا لږ افغانان که وکړي. نو ز ه ستا دغه لوړ احساس پالم او ته روم ته زما کورته راشه. هغه دم زه د یوه خلقي کمونیست د توطئی له کبله د استعمار په زندان کی پروت او د سفر لپاره می اسناد نه لرل. بالاخره د الله پاک خوښه داسی وه چی زه د روان کال د سپتمبر د میاشتی په ۲۹ نیټه د پاچا زوی رحمت الله خان سره له نژدی ووینم. دا سفر زما لپاره نه یوه تفریح او له ښکلی روم څخه لیدنه، بلکه یوه ملي وجیبه او مکلفیت معلومیده. زه او ما سره زما ښځه زینب نوری ترنګزی او زما دوه لورانی فایزه جانه او عابده جانه د سپتمبر په ۲۷ نیټه د ایتالیا هیواد پلازمینی روم ته ورسیدو او د پاچا لور محترمی هندیه جانی (د افغانستان) میلمه وو.




جناب محمد ایاز نوری در کنار شهزاده داکتر رحمت الله د افغانستان پسر ارشد و ولی عهد
اعلیحضرت غازی مرحوم امان الله خان در منزل شخصی ایشان در روم

هغه دم جناب رحمت الله خان د ناروغی له کبله په روغتون کی وه او له ښه بخته په سبا یی له روغتون څخه رخصت او خپل کورته یی تشریف راوړی وه. ما د سپتمبر په ۲۹ نیټه سهارد پاچا لور هندیه جان له کور څخه جناب ته فون وکړ اوعرض می وکړ چی زه اوس فعلاً په روم کی یم! هغه جناب په خوښی سره وویل: واه!! دا خو نژدی راته راغلی یی ، زما حال ښه دی او ته نن مازیګر د پنځو تر پنځه نیمو بجو په وخت کی زما کورته راشه او زمونږ دیدار به سره وشي. پدی عین کی زما په خواهش او د پاچا لور هندیه جانې په لطف زه د روم په ښار کی د اعلیحضرت مرحوم امان الله خان هغه کور د لیدو لپاره ورغلم چی هغه ملی قهرمان د ژوند تر پایه هلته په کی استوګن وه. دا یوه شکلی مانۍ ډوله درې پوړیزه کور وه. باغ او غولۍ یې هم لاره او دم ګړی د نایجیریا هیواد سفارت ورڅخه استفاده کوله. له بلې خواعجیبه ده دا واټن او انتظار تر پنځه بجو د مازیګر پوری ماته ډیر سخت تمامیدل، آخر زه د غازی اعلیحضرت امان الله خان د ژوندي یادګار د لیدو لپاره انتظار وم بیا په فکر کی ولاړم چی زه د غازي دې ژوندي استاذي ته څه په سوغات کی کورته ورورړم...؟! زما خانمی ویل، دا او هغه شئ ...! مګر زه په خپله دنیا کی ورک وم. په پای کی زما افغانی احساس او وجدان راته وویل: ورشه د غازی د زوی کورته خپل ( د زړه له کومی اخلاص او پاکه افغاني مینه) ورته ډالی کړه، دا ستر سوغات دی او شاید چی ولیعهد رحمت الله خان یی قبول کړي. پدی فیصله مو یوه د ګلانو ښکلی ګیډۍ تیاره کړه او د خپل صداقت او اخلاص سره کورته ور روان شولو. د مربوطی ودانۍ په عمومی ور کی یو ساتوونکۍ نوکریوال هم موجود وه زمونږ په لیدو یی سم د لاسه وپوښتل: تاسو د رحمت الله خان...!! ما ژر ورغبرګه کړه: بلی، مونږ د پاچا زوی رحمت الله خان ...! هغه کس مونږ د غازی زوی د کور ورته بوتلو او د کور زنګ یی وواهه. ور خلاص شو او ما د رحمت الله خان خانمی سره روغبړ وکړ. د دهلیز شي اړخ ته د یوی خونی څخه چی ور یی خلاص وه یو جګ آواز راغۍ: ایاز خانه!! دا آواز دومره ماته خوږ او له عظمته ډک وه چی ما ټکان وخوړ او تصور می وکړ چی ګینی الله پاک غازی مرحوم امان الله خان راژوندی کړی او پر ما ږغ کوي...؟! "بلی صاحب" می وویل او په چټکو قدومو می فاصله ووهله. خونی ته په ورننوتو می ولیدل چی ۸۷ کلن غازی زوی ولیعهد رحمت الله خان زمونږ د پذیرایی لپاره له خپلی څوکۍ راپورته او د یوه میز تر شاه پداسې حال کی چی دوه غټ او شکلی لاسونه یی د میز پر ژۍ تکیه کړي ول ، ولاړ وه. د غیږی د روغبړ او لاس مچی څخه پس زه د ولیعهد تر څنګ په څوکۍ کشیناستم. هغه جناب په حاکمه دری ژبه روان ګړیده او کلاسیک دری کلمات یې هم پکارول.غازی زوی په موسکا سره ماته وویل: ګوره ! آخر مو سره ولیدل او دا ښه قسمت دئ. زه تا آیاز خان مخاطب کوم که آغای نوری درته ووایم دا خو ایراني کیږي او مونږ تاسو خو افغانان یو.ما ویل: ویاړ پر تاسو چی پس له پوره اتیاوو کلنو جلا وطنۍ مو خپل افغانیت نه دی هیر کړی. بیا می خپله خانم چی د غازي امان الله خان د یوه تکړه او ډیر اخلاصمند قوماندان حاجی صاحب د ترنګزو رحمت الله علیه لمسۍ ده او دوه لورانی ورته معرفی کړل. جناب ورباندی خپله مینه او شفقت وکړ. دا خونه د غازي زوی د مطالعی کوټه وه، د ولیعهد د ناستی د ځای تر شاه پاس په دیوال کی د هغه د پلار او زمونږ د ملت د حقیقی قهرمان اعلیحضرت مرحوم امان الله خان یو ډیر لوی تصویر په پوځی جامو کی نصب وه چی ډیر شکلی او

ویاړمن معلومیده، هغه ته مخ کی یو تلویزیون او مخامخ د الماری پر سر یو شمیر فوتوګان لکه د رحمت الله خان د مشر ورور مرحوم  هدایت الله خان او پخپله د رحمت الله خان پوځی او نور کورني تصویرونه ایښودل شوي وه. د خونی په الماریو کی ګڼ شمیر کتابونه موجود ول چی د ولیعهد د شخصیت معرفت یی کاوه. بیا یی خپله د ژوند ملګری مونږ ته معرفي کړه. هغه آدیله جان، په خټه ایټالوی او د هغه وخت د ایټالیا د سمندري قواوو د عمومي قوماندان لور کیده. ولیعهد همدا یو وار واده کړی او په تاسف یی ویل چی اولاد زمونږ په قسمت کی نه وه. د خپل عملیات په باب یی معلومات راکړل چی د ښئ وروځی پر سر یی د عصبی رګونو عملیات کړي ول او اوس هم د درد احساس کوي. د ځان په باب جناب فرامابیل، چی زه په ۱۹۲۱ م کال د کابل په شاهی ارګ کی دنیا ته راغلم. ما په شاهی ارګ کی د خپلی مور تر څنګ د یوی بلی افغاني قوی او صحتمندی ښځي چی د هیواد د پنجشیر د سیمی نه وه هم د تي شودې رودلي، دوه ټولګیه ښوونځی می هم په کابل کی لوستی او اوس هم یو څه لیک په افغاني ژبه کولای شم. بیا ولیعهد خپل د هغه وخت د ټولګی یو عکس مونږ ته ډالی کړ، دی څومره خوږ او پی مخی ناست په ټولګی کی د نورو زده کوونکو سره...!! مخکی هغه جناب ویل، زه اوه کلن وم چی امانی دولت سقوط وکړ او بیا د ایټالیا په هیواد کی میشت شولو. ما لومړی پوځی زده کړې وکړې او یو څو کاله پوځي افسر هم وم. پس له دوهمی نړیواله جګړې می مسلک بدل او پولیټیکل ساینس کی می د ډاکټري تر علمي رتبی پوری تحصیل وکړ او د شلو کالو لپاره د روم په یوه ښوونځي کی د خپلی خانمی سره ښوونکی وم. دا زما شخصي کور دی او اوس البته زه د تقاعدی تنخوا اخلم. په دوام جناب رحمت الله خان خوښ او ویل یې چی له دې لسو وروستیو کلنو راپدی خوا زه وینم چې زما د پلار نوم بیرته البته په تدریجي ډول د افغانانو په ذهنو کی راژوندی شوی او له بلې خوا زما کشر ورور احسان الله خان او زما خور هندیه جان هم د افغانانو په غونډو کی په بهر او افغانستان کی ګډون وال دي او هغه راپورنه چی ماته راوړي اوس ډیری افغانان زما د پلار نوم آزادانه په نیکی سره یادوي. دغه ستاسو اوسنی راتګ زما کورته ښیی چی زما هیواد وال زمونږ سره حقیقي مینه لري او مونږ ته درنشت کوي. چی دا ما ته کافی تسلي او اطمینان دی.




آقای محمد ایاز نوری حین ملاقات با والاحضرت داکتر رحمت الله د افغانستان پسر ارشد و ولیعهد
اعلحضرت غازی امان الله خان در خانهٔ شخصی ایشان در روم

بیا ما وپوښتل چی اوریدلي مو دي چی تاسو د امانی شاهی دولت ولیعهد واست؟ جناب جدی شو او ویل یې: هو ګرانه! زما په یاد دي زه اوه کلن وم او د امانی استقلال وروستی کلیزه په پغمان کی لمانځل کیده. زما پلار غازي اعلیحضرت زه هم له ځانه سره بوتلم او بیا یی هغه لوړ ستیژ ته ور پورته کړم. اعلیحضرت د خپل نطق په بهیر کی ګڼ شمیر افغانانو ته اعلان وکړ چی د افغانستان د شاهی دولت ولیعهد او زما ځای ناستی زما دغه زوی رحمت الله خان دئ.
ما جناب ته وویل: زما په نزد تاسو اوس هم د افغانستان پاچا یاست او د دارالامان په مانی کی ناست یاست!! هغه په موسکا شو او ویل یې: مه وایه نو...! دا اوس یوه افسانه ده .

بیا ما وویل: جناب صاحب! د هیواد اوسنی وضع ډیره بده ده!! رحمت الله خان ویل، ګوره ګرانه، زما مشر نیکه امیر عبدالرحمن خان هم انګریزانو د افغانستان پادشاهی ته رسولی وه او زما کشر نیکه امیر حبیب الله خان هم سیاسی محکوم وه. دا زما پلار اعلیحضرت امان الله خان وه چی میدان ته راووت او د ملت په مټ یي د هیواد سیاسی خپلواکي د استعمار څخه تر لاسه کړه او د هیواد ترقی ته یی ملا وتړله. که څه هم په دی لاره کی یی ځان، کور او کورنی قرباني او برباد کړل خو له خپل استقلال څخه تیر نه شو...؟! زه د هیواد له اوسنیو حالاتو خبریږم او ډیر پرې خفه کیږم.
مخکی بیا ما ولیعهد ته وویل: څه موده پخوا د امانی خپلواکی نهه اتیایمه کلیزه وه، تاسو کوم پیغام لرئ؟
جناب وویل: زه خپل دوست او دښمن ته د اماني استقلال نهه اتیایمه کلیزه ورمبارکوم.... په همدې شیبه کی پاچا زوی خپل ښی لاس خپلي ټندي ته ورپورته کړ او وې ویل: درد راته کوي!! ما د هغه جناب لاسونه ونیول، لاسونه یې خورا ساړه ول. دا وضعیت یوه دقیقه دوام وکړ. زینب ویل، نوره سوالونه له جناب څخه مه کوه!!او ما هغه د پنځوسو سوالونو ورقه بیرته راواخیسته، کنه زما ارزو وه چې غازي پالوونکو افغانانو ته یو ښه معلوماتي راپور تیار کړم. ورپسی یی یو څه ګرمی اوبه وڅښلي او حال یی بیرته ښه شو، مګر تر فشار لاندی وه. څه وخت مو ولیعهد آرام پرېښود او بیا می حضور ته عرض وکړ که مونږ ته د رخصت اجازه راکړي؟ رحمت الله خان وویل: پنځه دقیقی نور هم تم شئ زه تاسو سره د خوښی احساس کوم. مونږ لږ زیاد تم شولو. ما حضور ته عرض وکړ: هغه سیاسی رهبران چې د غازی اعلیحضرت څخه پس په افغانستان کی په قدرت راغلل، هغوی مونږ ته کوم خدمت ونکړ بلکی لوی جنایتونه او خیانتونه یې وکړل، هغوی که ونتوانیدل او یا یې ونغوښتل، په دواړه حالاتو کی د افغانستان ملت او خدای پاک ته مسؤول او ځواب ورکوونکي دي، مګر تاسو د غازی اولادونه د حقوق العبد پر اساس انشاء الله بري یاست، په آرام ضمیر خپل ژوند ته دوام ورکړی. پاچا زوی مننه وکړه. چی بالاخره جناب وویل، ایاز خانه! تاسو که غواړی نو تللی شی. مونږ د اعلیحضرت مرحوم غازی امان الله خان او ورسره شهیدانو او غازیانو سپیڅلو ارواحو او د پاچا زوی ولیعهد رحمت الله خان د بیرته بشپړه روغتیا په هیله د لوی الله درګاه ته دعا وکړله او د هغه عالي جناب له حضور نه رخصت شولو.




منزل شخصی اعلیحضرت غازی مرحوم امان الله خان در سال 1960 در روم